مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

لیکوالان: لیون پولادا او لیلا پولادا Leon B. Poullada & Leila D.J Poullada ۲۰۲۰/۱۰/۰۲
مترجم: عبدالباري جهاني

# د افغانستان شاهي دولت او متحده ایالات

## The Kingdom of Afghanistan and the United States: 1828-1973

اتمه برخه

دا کتاب د متحده ایالاتو مورخ او ډيپلومات لیون پولادا او د هغه مېرمني لیلا پولادا لیکلی دی. که څه هم چي ټول کتاب د افغانستان او امریکاد اړیکو په اړه دی خو ځیني فصلونه يي د افغانستان له اوسنیو حالاتو سره مستقیم تړاو لري ما يي هغه د ترجمي لپاره انتخاب کړي دي. زه یقین لرم چي دا فصلونه به د افغانستان د تاریخ د علاقه مندانو او تاریخ د شاګردانو لپاره په زړه پوري وي.

## اتم فصل

### پوځي مرستي ـ لومړۍ برخه: اداري مشکلات

هيڅ شي د متحده ایالاتو او افغانستان ترمنځ دونه جلاوالي او اختلاف نه دی راوستلی لکه افغانستان ته د متحده ایالاتو د پوځي مرستو نه ورکول؛ او هيڅ شي، په اوږده موده کي، د افغانستان پر سرنوشت باندي دومره تباه کونکي اغېزه نه ده کړي لکه د امریکا دغه پالیسی چي وکړه. اکثري وروسته منځته راغلي بدي پيښي د امریکا له دغه بدشګونه فیصلي سره تړلي دي چي په ۱۹۵۴ کال کي يي وکړه او افغانستان ته يي د وسلو ورکول رد کړل. خو د امریکا له دغي وروستی فیصلي څخه مخکي یو مهم اوږد تاریخ پروت دی او که د امریکا او افغانستان د اړیکو تاریخ په هر ډول وڅیړو او له امریکا څخه د افغانستان د مشرانو د وسلو غوښتنه، چي هغوی د خپل هیواد د امنیت لپاره ضرورت ورته درلود، ونه څېړو نو زموږ لیکنه به نیمګړې وي.

په تاریخي لحاظ، افغانستان ته وسلي هر وخت برتانوي هند ورکړي وي. په اته لسمه او نونسمه پېړۍ کي برتانیې د افغانستان له پاچاهانو سره، د ډيپلوماسی د اصلي وسایلو په حیث، له وسلو او طلا څخه کار اخیست. کله چي به د افغانستان اوبرتانیې اړیکي ښه وه نو امیرانو ته به په روپیو تنخواوي ورکول کېدلي او کله کله به توپکونه او مهمات هم ورسره ملګري وه. که به اړیکي سم نه وه نو برتانیې به افغانستان ته د وسلو لېږل بند کړل او امیرانو ته به يي وښودل چي دوی د خپل امنیت د خوندي کولو لپاره څومره پر برتانوي هند باندي تکیه دي. د دې بندیزونو په نتیجه کي بالاخره په افغانستان کي د وسلو قاچاق پیل سو او د هند په سمندر کي د مکران له بندر څخه د عربو تر بحیرې پوري سیمه يي اخیستي وه.

وروسته له هغه چي په ۱۹۱۹ کال کي د برتانیې او افغانستان د دریم جنګ په نتیجه کي افغانستان د برتانیې له استعمار څخه ازاد سو نو د وسلو خریداری يي زیاتره په برتانوي منابعو پوري تړلي وي؛ مګر د افغانستان حکومت به، په هند کي، د برتانوي حکومت له خوا د ټرانزیټ د کنټرول د مقرراتو په خاطر، چي یا به د سیاسي علتونو له مخي او یا په قبایلي سیمو کي د ناکراریو له امله به سخت سوي وه، تل له ستونزو سره مخا مخ وو.

دا یوه تاریخي افسانه ده چي وایي افغانستان، د لومړي ځل لپاره، د ۱۹۵۰ په لسیزه کي له متحده ایالاتو څخه وسلي وغوښتلي؛ امریکا د هغوی غوښتنه ونه منله او افغانانو له شوروي اتحاد څخه د پوځي مرستو غوښتنه وکړه. په حقیقت کي، په ۱۹۳۵ کال کي، په کراچي کي د متحده ایالاتو کونسلګری ریوټ ورکړ چي د افغانستان حکومت له امریکا څخه د وسلو د خریداری غوښتنه کړې ده. کونسلګری ریوټ ورکړ چي د افغانانستان حکومت، د کاټر پیلر Cater Pillar له شرکت څخه، ېنځوس ټرکټره د خپل پوځ لپاره خریداري کړي او غوښتنه يي کړې ده چي د شیکاګو د ښار، د اې جي اسلډورف A.J. Asldorf له شرکت څخه زغره وال موټرونه، ټانکونه او توپونه واخلي. په دغه ریوټ کي راغلي دي چي افغانان د سي ایچ کاوډري C. H. Cowdry په نوم امریکایي صنعتي شرکت سره، د خپلو پولیسو لپاره، په توپونو مجهزو سپکو ټانکونو د رانیولو لپاره خبري کوي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په ۱۹۳۹ کال کې، په اروپا کې د جنګ له پیل کېدلو څخه سمدستي وروسته، د افغانستان حکومت په تهران کې د امریکا سفارت ته اطلاع ورکړه چې غواړي په متحده ایالاتو کې وسلې رانیسي. د نازیانو او شورویانو ترمنځ پکټ تازه جوړ سوی وو او له افغانانو سره دا اندېښنه وه چې شورویان، د افغانستان له لارې، برتانوي هند ته داخل نه سي. څرنګه چې متحده ایالاتو هم د اروپا جنګ ته اندېښنه درلوده نو نه یې غوښتل چې خپله د وسلو کمزورې زخیره تشه کړي؛ نو د افغانانو په غوښتنه کې یې ری ونه واهه.

څرنګه چې متحدینو، د دوهم نړۍ وال جنګ په جریان کې د وسلو د اخیستلو لپاره تلاښونه کول نو د افغانستان د وسلو سوال خاموش سو. د افغانستان حکومت مجبور سو چې پر خپلې عنعنوي او لرزاني بېطرفی باندې تکیه وکړي او که وکړای سي د اروپایی اتحادونو له جوړېدلو او ماتېدلو څخه تر وسه وسه ګټه واخلي.

سره له هغه چې افغانستان د جنګ په کلونو کې هیڅ ډول فعالیت نه درلود بیا یې هم د امریکا له مشرانو سره د پوځي مرستود امکان په باب خبري کولې. د مثال په توګه په ۱۹۴۴ کال کې پاتریک هرلي Patrick Hurley ، چې د جمهور ریس روزویلټ سلاکار وو، کابل ته سفر وکړ. ده ته د دولت د یوه رئیس په ډول هرکلی وویل سو او په بشپړ احترام د چهلستون په قصر کې ځای ورکړه سو. صدراعظم هاشم خان له ده سره د کتلو په ترځ کې پوښتنه ورڅخه وکړه چې داسي امکان سته چې له متحده ایالاتوڅخه یوه اندازه پوځي مرسته تر لاسه کړو او یا لږترلږه په هغه هیواد کې د وسلو د رانیولو اجازه راکړه سي. هرلي روښانه جواب ورنه کړ او په کابل کې یې د برتانیې له سفیر سره سلا وکړه. د برتانیې سفیر لندن ته اطلاع ورکړه او د برتانیې د خارجه وزیر مرستیال سرموریس پیټرسن Sir Maurice Peterson د ۱۹۴۴ کال د اپریل پر خوارلسمه د واشنګټن په خارجه وزارت کې له فوی کولر او والاس موري سره د خبرو په ترځ کې وویل چې برتانیه له افغانستان سره د پوځي مرستو مخالفه ده. ده وویل چې له دوی سره دا وېره ده چې دا وسلې به په شمال لوېدیځه صوبه کې د قبایلو لاسته ولوېږي چې همدا اوس یې د محور هیوادونه لمسوي. پر دې برسېره یې دا غلطه ادعا هم وکړه چې له افغانستان سره یې د ۱۹۲۱ کال په تړون کې دا څرګنده کړې ده چې له هغه هیواد سره د وسلو تجارت به د برتانیې په انحصار کې وي.

کله چې د جنګ لمبې پر سړېدلو سوې نو د افغانستان حکومت د خپلو وسله والو قواوو د بهترولو لپاره منظم کوښښونه وکړل. د افغانستان مقامات، له جنګ څخه وروسته نړۍ د شرایطو په نظر کې نیولو سره، په دې پوهېدل چې متحده ایالات په نړۍ کې سترطاقت دی او د افغانستان د پوځي غوښتنو د پوره کولو لپاره منطقي منبع ده.

د افغانستان مقاماتو هیله درلوده چې امریکا به یې پوځیان ورته وروزي. د ۱۹۴۴ کال د مارچ پر دېرشمه، په کابل کې، د امریکا د سفارت پوځي اتاشه ارنیسټ فاکس، د پاچا د کاکا له زوی او د مرکزي قواوو له قوماندان، سردار داوود خان سره وکتل. داوود خان له فاکس څخه وغوښتل چې که د امریکا په پوځي اکادیمیو کې د افغانستان د پوځیانو د روزلو د کوم پروګرام امکان موجود وي. فاکس د دفاع له وزرات او د دفاع وزارت له خارجه وزارت سره تماسونه ټینګ کړل او په نتیجه کې مسله همداسي پاته سوه او د دواړو وزارتونو له دریځونو څخه داسي څرګنده سوه چې امریکا په افغانستان کې کومي سیاسي او ډیپلوماټیکي ګټې نه لري.

د افغانستان حکومت د ۱۹۴۵ کال د جولای په میاشت کې، په کابل کې، د امریکا نمایندګی ته بیا د خپل پوځ لپاره د جنګي او غیر جنګي وسایلو لپاره خواست وکړ. ځکه چې حکومت تازه د ځدرانو د ښورښ په ځپلو کې پاته راغلی وو. له بلې خوا د افغانستان حکومت د دغه ښورښ په ځپلو کې د څو ټانکونو، هاوانونو او ډېري کمزوري هوايي قوې څخه کار اخیستی وو او د افغانستان مشران په دې عقیده سوي وه چې په دغه راز جنګونو کې عصري وسلې څومره اغېزمني دي.

په کابل کې د امریکا سفیر اینګرټ خارجه وزارت ته رپوټ ورکړ چې له قبایلي ښورښیانو سره د افغانستان د قواوو له تازه جنګونو څخه د دې هیواد مقاماتو ته معلومه سوې ده چې په قبایلي علاقو کې د عملیاتو لپاره یوه وړوکې غرنۍ قطعه او د داخلي امنیت او سرحدي ګزمو لپاره یوه روزل سوې ژاندارم قوه ولري بهتره به وي. د افغانستان حکومت له اینګرټ څخه وغوښتل چې که چېري ممکنه وي چې افغانستان له امریکا څخه هغه وسلې چې په هند کې اضافه پاته سوي او خرڅلاو ته وارندي سوي وي واخلي. افغانانو په هند کې له اضافي پوځي وسایلو سره ځکه علاقه پیدا کړې وه چې مخکي امریکا د ایران او مصر اضافي وسلې بازار ته کړي وې. د افغانستان حکومت غوښتل، چې خپل یو د خریداری هیات هند ته واستوي او دغه اضافي جنګي مهمات واخلي. البته په هغه صورت کې چې امریکا د خپلو هغو پوځي مهماتو د اخیستلو اجازه ورکړي چې افغانستان ضرورت ورته لري.

واشنګټن د همدغي جولای په میاشت کې په جواب کې ورته وویل چې د پوځ او سمندري قواوو د وسایلو د خرڅلاو کمېسیون OANLC، چې په نوي ډهلي کې دی، باید کابل ته سفر وکړي او وضع وګوري وروسته به د افغانستان مقاماتو ته د دغو وسایلو د اخیستلو د طرزالعمل په باب معلومات ورکړي. د افغانسان مقاماتو سمدستي موافقه وکړه مګر د امریکا د پوځي وسایلو د خرڅلاو د کمسیون هیات ایله د ۱۹۴۵ کال د اکتوبر په میاشت کې کابل ته ورسېدی. د دې هیات مشري مېجر رابرټ سیلي کوله او د سلاکارانو یوه ډله ورسره وه. د سیلي کمیسیون ډېر ژر دې نتیجې ته ورسېدی چې افغانستان زیاتره غیرجنګي وسایلو ته ضرورت لري چې په پوځ او د عامه ارتباوو په وزارت کې کار ورڅخه واخلي. د امریکا دغه هیات د اضافه وسایلو د خریداری د طرزالعمل په باب خبري وکړې مګر د پور



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د شرایطو په باره کي يې هيڅ ونه ويل. افغانستان غوښتل چې د دغو موادو د خريدارۍ لپاره دوه هياتونه چې يو ملکي او بل پوځي وي ولېږي. دوی غوښتل چې پوځي هيات د جنرال غلام دستګير تر مشرۍ لاندي او ملکي هيات، په امريکا کي روزل سوي، انجنير محمدکبير لودين تر مشرۍ لاندي وي. د امريکا حکومت وويل چې دواړه هياتونه بايد د کبير لودين په مشري وي. د پوځي هيات يو غړی، په ترکيه کي روزل سوی، جګړن عبدالملک عبدالرحيم زی وو.
د افغانستان حکومت ډېر ژر خبرسو چې د دغو اضافه پوځي وسايلو د خريدارۍ لپاره پور هم ورکول کيږي. په واشنګټن کي د افغانستان سفير عبدالحسين عزيز د امريکا په خارجه وزارت کي د نيژدې ختيځ او جنوبي اسيا د چارو مسوول لوی هينډرسن څخه وغوښتل چې په دې باب معلومات ورته وکړي چې امريکا د افغانستان هيات ته، چې اوس حاضر په نوې ډهلی کي دی، د اضافه پوځي وسايلو د خريدارۍ لپاره پور ورکوي کنه. ده وويل چې که پور ممکن وي نو افغانستان به ډېر مواد واخيستلا سي.
په عين وخت کي، د افغانستان خارجه وزارت، په کابل کي، د امريکا له سفارت څخه وغوښتل چې په دې باره کي په نوې ډهلي کي د OANLC دفتر ته دا اطلاع ورنه کړي چې په امريکا کي د افغانستان سفير د خريدارۍ په باب پوښتني کړي دي. دا د افغانستان د مقاماتو دوه مخي نه وه بلکه هغوی معمولاً د امريکا له بيروکراسی سره له احتياط څخه کار اخيستی. د امريکا سفارت خارجه وزارت ته اطلاع ورکړه او په نوې ډهلي کي د اضافه وسلو د خرڅولو هيات ته اطلاع ورنه کړه او په دې باره کي فيصله يې خارجه وزارت ته پرېښودله. د امريکا سفارت په ټينګه توصيه وکړه چې افغانانو ته بايد پور ورکړه سي او ويل يې چې برتانيې، د خپلو وسلو د ليلام په وخت کي، افغانستان ته، لس کلن، پور ورکړی وو. سفارت په دې عقيده وو چې په نوي دهلي کي د افغانستان دغه خريداري به برتانيه په غوسه نه کړي ځکه چې افغانستان زياتره غير جنګي وسايل اخيستل. پر دې برسېره، دا د برتانيې په ګټه وه چې افغانستان دونه قوي پوځ ولري چې، له هند سره، په سرحد کي د خپلو قبايلو ښورښونه کنټرول کړلای سي.
د ۱۹۴۵ کال د نومبر په مياشت کي، د امريکا خارجه وزارت، په نوي ډهلي کي، د افغانستان هيات ته خبر ورکړ چې د اضافي پوځي وسايلو خريدارۍ لپاره د پور اخيستل، د اضافي شته منيو ادارې ته، يوه خاص درخواست ته ضرورت لري. تر څو چې د اضافي شته منيو د قانون د پنځه لسمي مادې څخه استثنايي حالت ترلاسه کړي. او په اوس حالت کي موږ دا نه سو ويلای چې کومو هيوادونو ته دغه ډول استثنی ورکوله سوې ده.
دې مبهم پيغام د افغانستان هيات حيران کړ، او د افغانستان حکومت يې، چې نوي ډهلي ته يې هيات لېږلی وو او هغوی هلته لاس ترزني بېکاره ناست وو، ځکه وارخطا کړ چې دوی بايد د امريکا د حکومت جواب ته انتظار ايستلی وای او په دې باره کي يې تصميم نيولی وای چې د دې خريدارۍ لپاره څه ډول مالي ترتيب ونيسي. د افغانستان حکومت له داسي معما سره مخامخ سو چې بالاخره يې د پور له خير څخه لاس واخيست او په نغدو پيسو يې د دغو وسايلو د اخيستلو فيصله وکړه. په دې توګه نو دوی يو څه د روغتون سامانونه، يو څو امبولانسونه او ساختماني وسايل رانيول. هيات د ۱۹۴۵ کال د جولای په مياشت کي د رانيولو سامانونو يو ليست، چې د ورځي په نرخ تقريباً يونيم ميليونه ډالره کېدل واشنګټن ته واستاوه.
په ۱۹۴۶ کال کي افغانستان بيا کوښښ وکړ چې له متحده ايالاتو څخه وسلې واخلي. په کابل کي د امريکا پوځي اتشه خارجه وزارت ته يو پيغام واستاه اووې ليکل چې د افغانستان پوځي مقاماتو ده ته يو رسمي درخواست ورکړی او غواړي چې د امريکا د نويو اضافي وسلو څخه خريداري وکړي. دغه درخواست په خارجه وزارت کي د وسلو او مهماتو د کنټرول هيات ته ورسېدی. خارجه وزارت، له يو څه بحثونو څخه وروسته، په کابل کي د امريکا سفير ايليټ پالمر ته وليکل چې اضافي وسلې، د ځينو هيوادونو په استثنی، د نورو هيوادونو د وسله وال کولو لپاره نه دي او افغانستان په هغو استثنايی هيوادونو کي نه دی شامل. واشنګټن دا ضرورت نه وو احساس کړی چې د استثنايي هيوادونو نومونه ياد کړي او نه يې دا ويلي وه چې د استثنی قايلېدلو معيار څه شي دی. دې وروستي ليک هم په افغانستان کي د امريکا سفارت او هم د افغانستان حکومت په تياره کي پرېښودل. خارجه وزارت ليکلي وه چې د نويو وسلو د رانيولو لپاره بايد چې په نظر کي نيول سويو وسلو يو مفصل ليست هغه وزارت ته ولېږل سي څو د هرې وسلې د صادرېدلو لپاره اجازه ترلاسه سي. پالمر ته هدايت ورکړه سوی وو چې د افغانستان حکومت ته اطلاع ورکړي چې دغه راز اجازه يوازي په استثنايی حالاتو کي ورکول کيږي. دا استثنايي حالات به څه وه؟ خارجه وزارت بيا هم څه نه وه ليکلي.
په دې توګه، يو ځل بيا، د افغانستان د وسلو غوښتنه په ډېر ساړه شکل رد سوه. افغانستان د لومړي ځل لپاره د وسلو په نويو منابعو پسي وګرځېدی او چکوسلواکيا ته يې درخواست ورکړ. د ۱۹۴۷ کال د جون په مياشت کي، په پراګ کي، د امريکا پوځی اتشه رپوټ ورکړ چې افغانستان د چکوسلواکيا د سکوډا له فابريکې څخه ډېري زياتي وسلې رانيولي دي.
په ۱۹۴۸ کال کي، د افغانستان حکومت يو ځل بيا له امريکا څخه د پوځي مرستي غوښتنه وکړه. په هغه کال د افغانستان حکومت، د ملي اقتصاد د ودې د پلان لپاره، له امريکا څخه د ۱۰۰ ميليونو ډالرو پور غوښتنه وکړه. دا بالاخره د هيلمند وادي انکشافي پور سو چې د صادراتو او وارداتو بانک ورکړ. د هيلمند وادي د انکشافي پروژې



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولـئ

پر داستان باندي پخپله يو کتاب لازم دی. په لومړي سر کي دا د ۳۴ میلیونو ډالرو دوولس کلن پور درخواست وو چي د داخلي امنیت لپاره ورکول سوی وو. د متحده ایالاتو حکومت، پرته له غور کولو، هغه سمدستي رد کړ.
د ۱۹۴۸ کال د جولای په میاشت کي، په کابل کي، د متحده ایالاتو سفارت رپوټ ورکړ چي د افغانستان لوی درستیز جنرال عمر، د امریکا پوځی اتشه ایډوارډ ایف کینټ او جېکوب ایف مینډرسي سره کتلي دي. جنرال عمر د افغانستان د پوځ د تشکیلاتو يو جدول ورته وړاندي کړ او دا يي ورته وويل چي که متحده ایالات له افغانستان سره پوځي مرستي په نظر کي ولري نو افغانستان ځیني مشخصي غوښتني لري او د خپلو غوښتنو لیست يي هم ورکړی وو. ده دغه راز ويلي وه چي دی د خپل حکومت له خوا اجازه لري او تیار دی چي د پوځي مرستي د غوښتلو لپاره د ضرورت علت هم ورته بیان کړي. مګر د دغي غوښتنی سیاسي او اقتصادي دلایل به په واشنګټن کي د افغانستان سفیر او د پاچا د کاکا زوی سردار نعیم درته ووايي.
ډېر ژر وروسته سردار نعیم چي د ملي اقتصاد وزیر عبدالمجید زابلی، د سفارت سلاکار محمد شعیب او د ملي اقتصاد لومړي معین عبدالحی عزیز په خارجه وزارت کی د نیژدې ختیځ او جنوبي اسیا د چارو د مسوول ایلبرټ جي مېتیوز او ریچرډ لیچ سره وکتل. د افغانستان هیات د اقتصادي او سیاسي مرستو د غوښتلو لپاره يو لیست ورسره اوړی وو او په پای کي په دې عبارت ختمېدی چي لطفاً د افغانستان د داخلي امنیت او د شورویانو د یرغل په مقابل کي د دفاع لپاره د امریکائي وسلو د خریداری اجازه راکړی. سردارنعیم په مشخصه توګه وويل چي په وسلو سمبال او د متحده ایالاتو تر حمائي لاندي افغانستان به په هندوکش کي د شورویانو یرغل تر هغه وخته پوري معطل کړي چي متحده ایالات او د هغه متحدین د منځني ختیځ او جنوبي اسیا څخه د دفاع لپاره فرصت پیدا کوي.
وروسته په ۱۹۴۸ کال کي صدراعظم شاه محمودخان واشنګټن ته سفر وکړ او د خارجه وزیر جورج مارشال سره يې وکتل. صدارعظم د افغانستان سره د پوځي مرستو لپاره په ټینګه خواست وکړ. شاه محمودخان وروسته ویل چي کله مي د خارجه وزیر سره د وسلو په برخه کي د مرستي خبره وکړه نو هغه حیران سو او زما څخه يي پوښتنه وکړه چي ستاسي دښمن څوک دی؟ شاه محمود په جواب کي ورته وويل روسان. مارشال پر دي فکر باندي چي افغانان به د روسانو د قدرت په مقابل کي درېږي يوه د ریشخند خندا وکړه. شاه محمود پر خپل غرور باندي دا حمله وزغمله او ورته وې ویل چي موږ وسلو ته د داخلي امنیت د ساتلو لپاره هم اړتیا لرو او که تاسي وسلي رانه کړی نو موږ به يي له روسانو څخه واخلو. مارشال په جواب کي ورته وويل چي د افغانانو په څېر ټینګ مسلمانان به هېڅکله د بې خدایه روسانو څخه مرسته وانه خلي. شاه محمود په جواب کي ورته وويل چي په اسلام کي د خوګ د غوښو خوړل ناروا دي مګر که انسان له لوږي مړ کېدی د خوګ غوښي هم خوړلای سي.

نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ